آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۳/۰۹

# دغه تقدير
# دغه عالم بدلوم

دا دی نن زه هم خپل عالم بدلوم
دا خپل تقدير او خپل کالم بدلوم
مينه به نه کړم له ټوپک سره زه
د ټوپک څوکه په قلم بدلـــوم
ځان به عادت کړمه له علمه سره
زه به په ګلو هر يو بم بدلوم
درد مو ګاللی دی عمرونه شولو
نور به دردونه او الم بدلوم
بس دی زړو پسې شوې منډې ډيرې
اوس به ژړا او دا ماتم بدلـــوم
جنډه مې جګه کړه توکل په الله
په ګل غنچو باندې دا بم بدلوم
که مې و نه شو کړای نو خاورې به شم
چې بريالی نه شوم قسم بدلوم
دُښمنی ډيرې شولې بس به يې کړو
نور په خوښيو به دا غم بدلوم

۲۰۱۴/۰۹/۲۵
هيدرسليف، ډنمارک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ